همکاری آلمان
DEUTSCHE ZUSAMMENARBEIT

# تخار

دا کليوالي ولايت چې د افغانستان په شمال ختيز کې پروت دی د ۱۷ ولسواليو نه جوړشويدی او د تاجکستان سره پوله لري. د دې ولايت په ۱۲۰۰۰ کيلومتره مساحت کې شاوخوا يو ميليون خلک ژوند کوي.

دا ولايت د يو شمير عمده ننګونو سره مخامخ دی. د يو شمير ولسواليو ليرې جغرافيايي موقعيت، ډيره غړنده اقتصادي وده، بی وزلي، د کليو د اوسيدونکو په منځ کې د زده کړې نشتوالی، او په يو شمير سيمو کې يوه ناکراره امنيتي وضعه د پرمختګ او پراختيا په لاره کې خنډ واقع کيږي. د دې ولايت کابو ۹۰ سلنه په کليوالي سيمو کې ژوند کوي. څو ولسواليو ته د نه لاسرسی له امله اوسيدونکي اغلباً ديته اړکيږي چې د ترانسپورت لپاره د آسونو او خرو څخه کاروا‌خلي. ښوونځيو او روغتيايي مرکزونو ته رسېدل ستونزمن دی. طبيعي پيښې لکه د واورې ښوييدل او سيلابونه يوه معمولي پديده ده. د ولايت اقتصاد تر زياته حده پورې د خدمتونو او کرنې د سکتورونو پر بنسټ ولاړ دی. ځايي خلک خپل زياتره عوايد د کرهنيزو محصولاتو د خرڅلاو څخه چې په دې نسبتاً حاصلخيزه او د اوبو له پلوه بډايه سيمه کې توليديږي او د کالي، ګاڼي او غاليو د توليد څخه په لاس راوړي.

د افغانستان سره د آلمان د همکاری پروګرام په تخار کې د ډيرو کلونو راهيسې کار کوي او په ډيرو ډګرونو لکه د قانون د واکمنی، د حکومتي سيمه ايزو سازمانونو د ظرفيت د پراخولو، د پايښتي اقتصادي پراختيا د هڅولو، او د ښځاک د اوبو او د انرژی د رسونې د سمون په اړه بيلابيل پروګرامونه پرمخ بيايي چې دغو پروګرامونو مرسته کړيده چې بدلونونه منځته راشي او د اوسيدونکو د ژوند شرايط سمون ومومي.

په دغه برخه کې په تخار کې د افغانستان سره د آلمان د همکاری د پروګرام د فعاليتونو په باب يوه لنډه کتنه لوستلای شی.

Project:
د افغانستان په شمال کې د پايښتونکي اقتصادي ودې ټينګښت
د افغانستان په شمال کې پاکې اوبه
د افغانستان د خلکو دپاره د روغتيايي څارنې سمون
برېښنا د اقتصادی شاخص په توګه_ د قانونی چوکاټ رامنځ ته کول او د پانګونې آسانتياوې
د افغانستان لپاره نوې کيدونکي انرژی
د ښوونې او روزنې د سکتور اصلاح کول – د ښوونکو دپاره نوې سټندړډونه او درسي نصابونه
د ټولو ښاريانو دپاره حقوقی مصونيت
د افغانستان د شمال د ثبات جوړونې په موخه پياوړي حکومتي جوړښتونه
دولتی ارګانونه د ټولنې د استنادي ستنو په توګه
د پراختيا شفافه طرحه کول او پلې کول
د سولې دپاره ځوانان

- [English]
- [Deutsch]
- [دری]